### الدرس الثالث | دريم درس

### شق الصدر | د شق صدر (د سینے سیري کیدو) واقعه

د نبی کریم ﷺ عمر تقریباً څلور کاله وو چی یوه ورځ نبی کریم ﷺ دخپل رضاعی ورور (د حلیمی بي بي ځوي) سره لوبے کولی ، د بنوسعد به علاقه کښې ، د کور نه لرې لری بهر ناسپا د حلیمی ځوی په منډه منډه راغلی ، په مخ باندی ئی غم ښکاره وو، مور ته وائی ، د قریشی ورور مدد له ځان وروسوئ، مور د بچی نه تپوس وکړو چی څه چل شوی دی ؟ هغه ورته قیصه وکړه چی دوه سفید پوش کسان راغلل، ورور ئے راله په زمکه څملولو او سینه ئے ورله په چاړه وسِیرله ، هغه لا خبره ختمه کړی نه وه ، چی حلیمی بی بی منډه کړه څه ګوری چي نبی کریم ﷺ په خپل ځاي چپ چاپ ولاړ دی، رنګ ئی تک زیړ دی ، حلیمی بی بی تری تپوس وکړو، هغه ووئیل : خیریت سره یم ، بیا ئے ووئیل چی دوه سپینو جامو والا کسان راغلل او زما سینه ئی وسِرله او زما زړه ئی راویستلو، د هغی نه ئی توره ټوټه بهر ګوزار کړه، او زړه ئی راله په یخو اوبو ووینځلو، او په خپل ځائی باندی ئی کیښودلو، بیا ئی راله سینه بنده کړه، او لاړل، د سترګو نه پناه شول، حلیمی بی بی هلك د ځان سره خپل کور ته راوستلو، بله ورځ ئی سحر وختی د ځان سره مکه مکرمی ته بوتللو، آمنه بی بی د حلیمی بی بی په بے وخته راتللو حیرانه شوله ځکه چی حلیمی بی بی د ځان سره ډیر په مینه بوتللی وو چی تپوس ئی وکړو نو حلیمی بی بی د شق صدر ټوله قیصه بیان کړه . د مور او د نیکه وفات: بی بی آمنه د خپل یتیم بچی سره مدینی ته لاړه د عبد الله د قبر د زیارت دپاره ، مدینه کښې بنو نجار قبیله کښې یو څو ورځی دیره شوله ، بیا واپس مکے ته راروانه شوه، د اَبواء مقام سره آمنه بی بی وفات شوه ، او هلته دفن کړی شوه ، د نبی کریم ﷺ عمر تقریباً شپږ کاله وو چي مور بي بي ئے وفات شوه ، د مور د وفات نه پس د نبی کریم ﷺ د کفالت ذمه واری نیکه عبد المطلب واخستله ، هغه د نبی کریم ﷺ بے حده خیال ساتلو ، د نبی کریم ﷺ تربیت کولو هغه سره ئے شفقت کولو ، کله چي د نبی کریم ﷺ عمر اته (٨) کاله شو، نو نیکه ئے وفات شو، د نبی کریم ﷺ د پرورش ذمه واری ابو طالب ته نقل شوله، د ابو طالب مالی حالت کمزوري وو او خاندان ئے لوئی وو، د هغي باوجود ابو طالب او د هغه ښځي نبی کریم ﷺ د خپلو بچو پشان خیال وساتلو ، ددی وجی نه د نبی کریم ﷺ د ابوطالب سره مینه وه ، داسی حالاتو کښې نبی کریم ﷺ پرورش حاصل کړو، د نبی کریم ﷺ تربیت په صداقت او امانت باندیے وشو تردی چی نبی کریم ﷺ د صادق او آمین په لقب باندی مشهور شو، که چابه ووئیل چی صادق او آمین راغلی دی نو هرچا ته معلومه وه چی دا نبی کریم ﷺ یادوی ،تجارت او واده :کله چی نبی کریم ﷺ لږ رالوئی شو ، د خپل ژوند ټول معاملات ئی پخپله سنبال کړل ، نبی کریم ﷺ د کار او کسب سلسله شروع کړه ، په معمولی مزدورئ باندی ئے د قریشو ګډی بیزی سرولے ، شام ته تجارتي قافلئ کښې شریک شو چی اکثر مال پکښې د خدیجه بنت خویلد وو، خدیجه یوه کُنډه ښځه وه ، او ډیره مالداره وه ، د میسره په نوم غلام د خدیجه بی بی د تجارت ذمه وار وو، د نبی کریم ﷺ د برکت د وجی نه تجارت کښې ډیره زیاته منافع وشوه ، ددی لوئی منافع باره کښې خدیجه بی بی د خپل غلام نه تپوس وکړو ، هغه ووئیل چی محمد بن عبد الله به سوداء اخستله او خرڅوله نو خلق به په ګڼړ تعداد کښې هغه ته راتلل ، چا باندی د ظلم نه بغیر به ئے ډیره منافع کوله ، خدیجے د میسره خبری خه په غور واوریدلے، حالانکه هغه پخپله هم د نبی کریم ﷺ په باره د هغه د امانت او صدق نه خبره وه ، خدیجه پدی ډیره خوشحاله شوله او د نبی کریم ﷺ سره ئے د نکاح دپاره مینه پیداء شوه ، نو خدیجے خپله ملګری د نبی کریم ﷺ د رأی معلومولو دپاره ولیږله چی هغه د نکاح باره کښې څه وائی ، دی وخت کښې د نبی کریم ﷺ عمرمبارک (٢٥) پنځه ویشت کاله وو، دی ښځی د خدیجئ د طرفنه پیغام نبی کریم ﷺ ته ورسولو، نبی کریم ﷺ هغه قبول کړو، پدی طریقه سره نکاح وشوله دواړه ښځه او خاوند خپل مینځ کښې ډیر خوشحاله وو، نبی کریم ﷺ دخدیجئ په مال کښې تجارت شروع کړو، وخت تیریدو سره سره د خدیجئ نه د نبی کریم ﷺ اولاد پیداء شو، زینب ، رقیة ، ام کلثوم ، او فاطمه رضی الله عنهن او په هلکانو کښې قاسم او عبد الله پیداء شول، دا دواړه په ماشوم توب کښې وفات شو .